# پښتانه؛ د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسله

دا د پاکستاني لیکوال ابوبکر صدیق اثر دی چې ملګري آقا محمد قریشي پښتو ته ژباړلی دی .

دا کتاب چې څلور برخې او ۱۱ بیلا بیل څپرکي لري په ۲۷۸ مخه کې اکسوس کتاب پلورنځي په ۲۰۱۹کې چاپ کړی .

په عموم کې پښتانه کتاب د پښتانه قام په عمومي جوړښت، د دوئ په جغرافیه، سیاسي هڅو او د مذهبي سختدریځۍ اړخ چې د خورا ډېرو ستونزو لامل ګڼلی کیږي بحث کوي. همدا شان په یاده سیمه کې په ځانګړې توګه په قبایلي سیمو کې پر ترهګرۍ، ناامنۍ او د دې فتنې ودې ته کتنه کوي .

لیکوال په (پښتانه) کتاب کې د ډیورنډ کرښې دواړو غاړو ته د پرتو پښتنو پر تاریخي او کلتوري اړخ رڼا اچولې. همدا شان لیکوال پر هغو دلایلو څېړنه کړې چې څنګه دا سیمه د پنځو یا شپږو پیړیو منزوي شوي سوله خوښه خلک یې ترهګرۍ کې ښکېل کړي دي. د دې څېړنې ارزښت پدې کې دی چې لومړي لاس معلومات او ښه تحلیل پکې وړاندې شوی. دا چې پدې کتاب کې په نورو کومو موضوعاتو بحث شوی پدې ویډیو کلیپ کې پرې خبرې کوو.

لومړۍ برخه؛ د دې کتاب لومړۍ برخه په درې بیلا بیلو څپرکو ویشل شوې ده.

لومړی څپرکی یې د پښتنو په اړه یوه عمومي سروې ده چې د دوئ په ژوند او کړو وړو راڅرخي.

دوهم څپرکی کې د پښتنو د تیرو پنځو پېړیو تاریخي سیر ته کتنه کوي چې پکې له امپراتوریو او دولتونو سره د پښتنو پر پېچلو اړیکو او دا چې ځینې اړیکې دوئ پخپله پرمخ وړي بحث شوي دي. لیکوال لیکي چې د دې اړیکو رېښه خورا پخوانۍ ده او د نن ورځې له جګړو سره یوځای کېږي. اروپایي امپراتورۍ او د زبرځواکونو لاسوهنې د سیمې سیاست او جغرافیې دواړو ته بدلون ورکړی چې په ترڅ کې یې د عصریتوب بهیر ټکنی شوی.

دریم څپرکې ته راځو؛ په دریم څپرکې کې لیکوال د پښتانه قام په وروستي تاریخ او ورسره په تړلو پیښو تم کیږي او لیکي؛ دا چې طالبان څنګه راپورته شول او څنګه بېرته په افغانستان کې له واکه ولوېدل، دلته دا بحث د پیښو پر بنسټ نه دی شوی بلکې تنها هغه اړین موضوعات پکې څیړل شوي چې د دوئ د پیدایښت، واک ته د رسیدو او له واکه د لویدو پر خوا راڅرخي.

دویمه برخه؛

د پښتانه کتاب دویمه برخه پاکستان ته ځانګړې شوې، څلورم څپرکی د وزیرستان جګړې ته کتنه کوي چې په دغه سیمه کې د پاکستاني طالبانو راپورته کېدو، د هغوئ په ایډیالوژۍ، نړیوالو ترهګریزو سازمانو، افغان طالبانو او همدا شان د مرکزي اسیا له افراطیانو سره یې پر اړیکو بحث خورا د پام وړ دی.

دا څپرکی پر هغو نړیوالو جهادیانو هم بحث کوي چې د ۲۰۰۱ کال په وروستیو کې افغانستان ته راوستل شوي او پر دې سیمو کې پټ شوي وو. بل لور ته بیا په سیمه کې د فوځي عملیاتو او د امریکایي ډرون الوتکو بریدونو ته په پام لیکي چې جګړو پر پښتني سیمه کې د پښتنو قبایلي او ټولنیز یووالی پیکه کړی.

پنځم څپرکی قبایلي سیمو (FATA) ته ځانګړی شوی چې د خیبر، کورمې، باجوړ او مومند ایجنسیو باندې بحث کوي، چې پکې د فاټا سیمه اییز جوړښت او د اصلاحاتو ارزښت، ته کتنه کوي چې څنګه یاده سیمه د اوسنیو او پخوانیو حاکمانو له لورې په اقتصاد، سیاسي او حقوقي توګه شاته پاتې شوې ده.

شپږم څپرکی بیا د پښتانه وطن سره تړلې سیمې کوزې پښتونخوا ته ځانګړی شوی چې پکې د پښتنونخوا په سیاسي، اقتصادي او همدا شان مذهبي اړخ بحث کوي. سوات ته یې هم سر ورښکاره کړی او په دغه سیمه کې یې د اوسنیو او پخوانیو جګړو، پکې د ښکیلو اړخونو او مذهبي سخت دریځۍ جاج اخیستی.

اوم څپرکی په بلوچستان کې د افغان طالبانو پر پټځایونو او همدا شان له دغې سیمې د دوئ پر رهبرۍ شورا او اړونده پخوانیو او اوسنیو چارو ور ټول دی. په ورته وخت کې د دغې سیمې سره تړلیو بلوچ بېلتون پالو او د دوئ پر مبارزه او تګلاره بحث کوي.

دریمه برخه؛

د پښتانه کتاب دریمه برخه افغانستان ته ځانګړې شوې چې درې واړه څپرکي يې په افغانستان کې د پښتنو پر سیمه اییز جوړښت او کلیوال ژوند بحث کوي چې څنګه دغه سیمې وخت ناوخت د سخت دریځه جګړه مارو لخوا کنټرولیږي. د همدې برخې اتم څپرکی لوئ ننګرهار ته ځانګړی شوی او هلته د اسلام پالو پر شته والي او پر افغانستان يې د اغېزو په اړه بحث کوي. نهم څپرکی بیا د افغانستان سویل ختیځو ولایتونو او په ټوله کې لویې پکتیا ته ځانګړی شوی، د دې برخې ارزښت پدې کې دی چې دا سیمه د ډیورنډ کرښې ترڅنګ له فاټا سره نښتې ده، لیکوال په دې برخه کې د پښتنو ټولنیزو دودونو او قوانینو ته چې خپلې ستونزې پرې اواروي پام کړی. همدا شان د دغه سیمې پر ټولنیزو اړیکو سربیره د دغه سیمې پر ستراتیژیک ارزښت او دا چې څنګه د دې ولایتونو ناامني په اسانۍ پر کابل اغیز کوي بحث کوي. لسم څپرکي کې د افغانستان په سویل لوېدیځ کې لومړی ځل د طالبانو راپورته کېدو ته او په ټوله کې د طالبانو پداېښت، ایډیالوژۍ، نړۍ لید، سازمان او ستراتیژۍ ترڅنګ د دوئ جګړېز بهیر ته کتنه کوي.

څلورمه برخه؛ د کتاب وروستۍ برخه کې لیکوال د خپلې څېړنې د پایلو ترڅنګ د سولې پر تګلاره بحث کوي او د ځینو دلایلو او وړاندیزو سره د تلپاتې سولې په شتون کې د پښتانه قام د پرمختګ او ثبات خبره کوي.

په پایله کې لیکوال لیکي چې لوېدیځ قدرتونه لنډمهالو امنیتي مسایلو ته پام کوي او هغوئ هېڅکله هم د اوږدمهاله حل په اړه فکر نه کوي، پایله دا چې افغانان او پاکستانیان خپل راتلونکی برخلیک خپله ټاکلای شي او باید همداسې وکړي.

پښتانو ځوانانو ته په ځانګړې توګه هغوئ ته چې د سیاست برخې زده کوونکي او مینوال دي زما اخیري پیغام دا دی چې پښتانه کتاب همتن ولولئ، ترڅو وپوهیږئ چې په پښتون بیلیټ کې روانه بدبختي له کومه سرچینه اخلي او څنګه خپل قام له دغه بدبختۍ د نیکمرغۍ خواته سوق کولی شو؟

پای